مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۱/۱۴

# د صنوبر ونه

## (Grantræet)

### دویمه برخه

### H.C. Andersen



خو د صنوبر ونې له دې شیانو خوند نه اخیسته او خوشحاله کیده نه، یوازې وده یې کوله او غځیده. ژمی او اوړی تیر شول او د صنوبر ونه له خپل جګ قد سره، هماغسې هلته ولاړه وه، هر چا به چې لیدله، ویل به یې:
«عجبه ښکلې او پرتمینه ونه ده!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د کرسمس له رارسیدو سره یې زموږ د کیسي صنوبر، له نورو ونو مخکې غوڅه کړه، تبر یې بدن ورڅیرې کړ او ونه په ګړز سره پر مځکه ولویده. ټول وجود یې له درده ډک شو او عجیبه سستتیا او ضعف یې احساس کړ. په هغې شیبه کې یې نه شوای کړای د نیکمرغۍ او خوښۍ په باب فکر هم وکړي، خواشینې وه، ځکه چې له خپل کور کلي او هغه ځای نه چې دا په کې ستره شوې وه، جلا کیده. پوهیده چې نور خپل پخواني او ګران دوستان نه شي لیدلای او دا له ویرونو ډک بیلتون یې بیخې نه خوښیده.
د صنوبر ونه هغه وخت په سد شوه چې د یوې لویې حویلۍ په مخکې یې له نورو ونو سره یو ځای، له کراچۍ نه ښکته و غورځوله، په همدې شیبه کې صنوبر یو غږ واورید:
«دا یوه بې جوړې ده، موږ همدا غواړو»
لږ څه وروسته دوه تنه چوپړان راغلل او د صنوبر ونه یې داسې یو لوی سالون ته ننه ایسته، چې پر ټولو دیوالونو یې نقاشي شوي ښکلي انځورونه را ځړول شوي وو، د سالون د لویې بخارۍ په څنګ کې ګلدانونه ایښودل شوي وو چې د زمري په څیر سرپوښونه یې درلودل، یوه خوځیدونکې څوکۍ او د وریښمینو پوښونو لرونکي کوچونه، یو لوی میز چې ډیر مصور کتابونه ورباندې ایښودل شوي وو، یو څه د لوبو اسباب او په سلګونو سکې ایښودل شوې وې.
د کاج ونه یې په یو استوانه ډوله داسې لوی ګلدان کې کېښوده چې له میده شګو نه ډکه وه، خو ګلدان ځکه نه لیدل کیده چې شا و خوا یې په شنه ټوکر پوښلی و او ګـلدان پر یوه غټ لکه لرونکي فرش باندې ایښودل شوی و.
اوه، ونه څنګه وریږدیدله! اوس به څه پیښیږي؟
چوپړانو ونه سینګار کړه او په څانګو کې یې د خلطو په څیر، رنګه جالۍ، جالۍ کاغذونو وځړول او دا خلطې یې په خوږو ډکې کړې. د زنګ په څیر لوښي او چارمغز ډوله شیان یې داسې په ونه کې را وځړول چې تا به وې چې همدلته را شنه شوي دي او څو شنه، سپین او سره واړه شمونه یې هم په څانګو کې وتړل.
کله چې کار خلاص شو، د ونې په څانګو کې د ریښتینو انسانانو په څیر داسې نانځکې تاو راتاو کیدې، چې ونې پخوا هیڅکله نه وې لیدلې او د ونې په تر ټولو جګه برخه کې یو غټ ستورې ایښودل شوی و چې رنګه او ځلیدونکې ستارې وربان‌دې ټومبل شوې وې، داسې چې بیخې بیساری و، بیخې بیجوړې.
ماخوستن ټولو په یوه خوله وویل:
«نن شپه د صنوبر ونه ښه ځلیږي!»





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ونې چُرت وواهه:
کاشکې همدا اوس شپه وای چې څراغونه ژر لګول شوي وای!
دا به کله کیږي؟
آیا داسې کیدای شي چې نورې ونې زما د ننداري له پاره له ځنګله څخه راووزي؟
آیا مرغۍ به د کړکیو شا ته راشي؟
آیا زه به همدلته همداسې ښنه یم او خپلې ودې ته به دوام ورکوم او ژمی وړی به همداسې ښکلې او سینګار شوې ولاړه یم؟»

د ونې هیلې او خیالونه له واقعیت نه لرې نه وو، خو د دې هیلو تر څنګه، د ملا ډېر کلک درد هم په عذاب کړې وه، داسې بد درد، لکه د انسان د سر درد.

شمونه بل کړای شول، څه ړناوې او څه پرتمنینه ځلا، څه پرتم او جلال! ونه داسې سره وریږدیده، چې د یوې شمعې لمبې، یوې شنې ښانګې ته اور ورته کړ او ایره یې کړه.

څو ځوانو نجونو چغې کړې:
«اوه خدایه!»
او په بیړه یې اور مړ کړ.

اوس د کاج ونې ریږدیدا ته هم زړه نه شو ښه کولای، دا څومره ګرانه وه! ونه په دې هم ډاریده چې د دې په ښانګو کې را زوړندې ناوکۍ اور وانخلي. دا له دومره ډیرې ښکلا او رڼا ګانو نه په حیرانتیا کې ډوبه وه چې ناڅاپه د لوی تالار دروازې خلاصې شوې او څو کوچنیان په خوشالتیا او بیړې سره داسې راننوتل چې نږدې و د صنوبر ونه واړوي. مشران لږ څه په کرارۍ را ننوتل، واړه یوه شیبه غلي پاتې شول، خو لږ څه وروسته یې د خوشالۍ داسې چغې سورې جوړې کړې چې ټول تالار یې ښوراوه. کوچنیان د صنوبر ونې شاو خوا کې ښه په درزا سره ګډیدل او د ونې له ښانګو نه یې ډالۍ تر لاسه کولې.

ونې له ځان سره فکر وکړ:
«دوی څه کوي؟ اوس به څه پیښ شي؟»

شمونه ټول وسوزیدل، دومره چې آن تر ښانګو پورې وسوزیدل. بیا مشرانو د شمونو اور یو ، یو مړ کړ او بیا یې کوچنیانو ته اجازه ورکړه چې هرڅه په ونه کې پاتې وي، وایېخلي.

کوچنیانو هم پر ونې ور منډه کړه او داسې یرغل یې پر وکړ او داسې په تندۍ یې خوراکي توکي تر لاسه کول چې د ونې د ښانګو د ماتیدو غږ اوریدل کیده. که یې د ونې پر څوکه ټړلی ستوری د سالون په چت پورې نه وای نښلولی، ونه به لا وختي چپه شوې وای.

د دویمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ